# د ټاکنود پایلو د جمع بندي، تصدیق او اعلان لایحه

## مبنی

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون له لوري (له دې وروسته کمیسیون)تصویب شوه.

## موخه:

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۴) مادې د (۱۹، ۲۰ او ۲۱) فقرو او د ( ۲۰، ۴۷، ۵۸، ۵۹، ۶۰ او ۶۵ ) مادو او د کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته د شکایتونو کمیسیون)د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د (۱۲) مادې د(۳) فقرې حکمونو ته په پام د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتیشوراګانو د ټاکنو د پایلو د جمع بندي، تصدیق او اعلانولو اړوند چارې تنظیموي.

## د پایلو ترلاسه کول او څېړنه

لومړی ماده:

1. د کمیسیون د ولایتي دفترونو مسوولین د رای شمېرلو د پایلو د فورمو لرونکي حفاظتي کڅوړې په هغو کې د لیکل شویو معلوماتو د سموالي په اړه د ډاډ له ترلاسه کولو او په سیستم کې د هغو له ثبت وروسته هغه په کابل کې د پایلو ملي مرکز ته لېږي. د پایلو لرونکو فورمو د کڅوړو د راټولولو ډول او د پړاوونو بشپړول یې د پایلو ملي مرکز کې په جلا طرزالعمل کې تنظیمېږي.
2. د پایلو ټولې سکن شوې فورمې د جمع بندیله پړاونووروسته د کمیسیون د ویب پاڼې له لارې ټولو ته رسول کېږي.
3. د جمع بندي په جریان کې، د پایلو د مشکوک والي او یا د تقلب د مشهودو نښو او یا د پایلو فورمو د ارقامو د بدلون په صورت کې یادې فورمې قرنطین کېږي.
4. کمیسیون قرنطین شوې پایلې په علني غونډو کې د استازو، کتونکو او د نوماندانو او رسنیو د استازو په حضور کې څېړي او تصمیم نیسي.
5. قرنطین شوې فورمې د کمیسیون له څېړنې او تصمیم وروسته د رایو شمېرلو بهیر کې شاملېږي او یا د رای شمېرلوله بهیر څخه وځي.
6. څارونکي او نوماندان د نه قناعت په صورت کې کولی شي د کمیسیون د تصمیم له ابلاغ څخه ۲۴ ساعته وروسته د نیول شوي تصمیم په هکله د شکایتونو کمیسیون ته شکایت وکړي.

7. د شکایتونو کمیسیون په ۴۸ ساعتونو کې پورتني شکایت ته رسیدګي کوي او د دلایلو په وړاندې کولو سره وروستی تصمیم نیسي.

## پلټنه او بیاشمېرنه

دویمه ماده

1. کمیسیون کولی شي د پایلو د مشکوک والي، د تقلب د مشهودو نښو د شتون، د پایلو په ارقامو کې د بدلون، د رای شمېرلو پروسې او د قرنطین شویو فورمو دځېړنې په اړ د موجه اعتراضونو د موجودیت په صورت کې، د ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلان دمخه د ټولو او یا هم د ټاکنیزې حوزې، مرکز او یا محل په کچه د ځینو رای پاڼو د پلټنې یا د بیا شمېرلو دستور ورکړي.
2. د رای ورکولو په یو محل یا مرکز کې د یو نوماند یا نوماندانو په زیان یا ګټه د تقلب د تثبیت په صورت کې یوازې د سرغړونکي نوماند د رایو د باطلولو په هکله تصمیم نیول کېږي او د نورو نوماندانو رایې غوره ګڼل کېږي او د معلوماتو په بانک کې ثبتېږي.
3. د تقلب د نه تاید په صورت کې، د خپل مشروعیت د پایلو فورمې وساتئ او د هغه پایله د معلوماتو بانک کې شاملېږي.

## د پایلو جمع بندي

دریمه ماده

1. هغه نوماندان چې د انصراف له دورې وروسته ، تېر او یا مړه شي او یا یې د شکایتونو کمیسیون نوم د نوماندانو له نوملړ څخه حذف کړی وي د رای شمېرلو او جمع بندي په وخت کې د هغه اړوند رایې د حساب او باور وړ نه دي.
2. د ولسمشري ځوکی ګټونکی نوماند باید د قانوني رای ورکوونکو له پنځوس سلنه زیاتې رایې ترلاسه کړې وي.
3. د ولایتي شورا د ځوکیو نوماندان چې په خپله اړونده ټاکنیزه حوزه کې زیاتې قانوني رایې ترلاسه کړې وي، د ولایتي شوراګانو د غړو په توګه انتخابېږي.

## لومړنی پایلې

څلورمه ماده

کمیسیون د ټاکنو لومړنی پایلې د رایو شمېرلو پروسې په پای کې د شمېرلو په محل کې اعلانوي.

## قسمي پایلې

پنځمه ماده

د ټاکنو قسمي پایلې د جمع بندي په جریان کې د کمیسیون له تاید وروسته وخت پر وخت محل وار د دې کمیسیون د رسنیو په مرکز کې نندارې ته ایښودل کېږي او په خپله ویب پاڼه کې یې خپروي.

## ابتدایي پایلې

شپږمه ماده

1. کمیسیون د ځېړل شویو رایو د شاملولو یا ایستلو په اړه د (۵۸)مادې د هدایت له مخې اجرات کوي.
2. ابتدایي پایلې د کمیسیون د تصمیمونو پر بنسټ هر نوماند ته د محل، مرکزاو حوزې په کچه د اچول شویو رایو په تفکیک اعلانیږي.
3. کمیسیون ابتدایي پایلې ژر ممکن په خپله ویب پاڼه کې خپرې کړي.
4. په هغه صورت کې چې د محل یا محلونو، مرکز یا مرکزونو پایله د ابتدایي پایلو له اعلان څخه پاتې وي، کمیسیون کولی شي د وروستیو پایلو له اعلان څخه دمخه یاده پایله د ټاکنو په پایلو کې شامله کړي.
5. که د محل یا محلونو، مرکز یا مرکزونو ابتدایي پایلې ناسمې اعلان شوې وي، کمیسیون کولی شي له ځېړنې وروسته برابرو شویو اسنادو ته په پام پایله د وروستیو پایلو له اعلان څخه دمخه تصحیح کړي.
6. کمیسیون د خپلو کړنو له ډول څخه د دې مادې د څلورم او پنځم بند په اړه د شکایتونو کمیسیون خبروي.

## د ټاکنو د وروستیو پایلو اعلان

اومه ماده

1. د شکایتونو کمیسیون، د ټاکنو قانون ۶۳ مادې او ټاکنیز تقویم ته په پام کمیسیون له خپلو ټولو وروستیو پرېکړو څخه خبروي.
2. کمیسیون وروستۍ پایلې د شکایتونو کمیسیون وروستیو پرېکړو ته په پام تنظیموي او له تصدیق وروسته ، وروستۍ پایلې د منتخبو نوماندانو د نومونو په ګډن خپروي، اعلانوي او تطبیقوي.
3. د ټاکنو وروستۍ پایلې د کمیسیون په ویب پاڼه کې خپرېږي.

## د منتخبو نوماندانو ټاکنیزې وثیقې

اتمه ماده

1. کمیسیون د هر منتخب نوماند لپاره ټاکنیزه وثیقه صادروي.
2. د ولسمشریزو ټاکنو ګټونکي نوماند لپاره ټاکنیزه وثیقه د کمیسیون له لوري د ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلان څخه ۳۰ ورځې وروسته سپارل کېږي.
3. د ولسمشري منتخب نوماند د ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلاناو د ټاکنیزې وثیقې له ترلاسه کولو۳۰ ورځې وروسته د ولسمشر په توګه خپل کار پیلوي.
4. د ولایتي شورا ټاکنو ګټونکو نوماندانو ته د ولایتي دفترونو مسوولین ټاکنیزې وثیقې ورسپاري.

## د استازو، کتونکو او رسنیو حقوق

نهمه ماده

باورليک لرونکي د نوماندانو استازي، ملي او بين المللي استازي ، کتونکي او ډله ييزې رسنۍ حق لري چې د پايلو د جمع بندي او اعلان ټول پړاونه ووينې.

## انفاذ

لسمه ماده

دا لايحه د تصويب له نېټې څخه نافذه او خپرېږي.